# د جدیدیت بېلا بېل صورتونه

# Different Forms of Modernism

Asal Marjan Muhib Wazir [1], Muhammad Kaleem [2]

Modernism is not just a literary terminology but it is a viable scientific and social movement. This movement has several aspects in terms of philosophical discussion concerning to enlightenment, humanism, rationalism and spatio-temporal on the one hand but on the other hand it emerges in the form of existentialism. The present study highlights both the aspects of modernism and its related concepts.

کله چې د هر کوم یو تحریک ، مکتب ، فلسفې مطالعه کوو ، نو مونږ هغه وخت د ډېر مشکل سره مخ شو چې دا مو د یو بل څخه د زماني لحاظ سره بېلوالے مقصد یا موخه وي او یا کله رانه خپل زده کوونکي یا اورېدونکي د یو بل نه د بېلوالي یا زماني تعین په اړه کومه پوښتنه وکړي ـ په داسې صورت کښې ښځي سړے د هغه کیفیت سره مخ شي چې که تپوس نه کوئ نو ښهٔ پوهېږم او که تپوس کوئ ، نو هېڅ نه پوهېږم ـ جدیدیت هم د یو داسې تحریک ، مکتب یا صورتحال نوم دے چې د پوهېدو دپاره ئې وخت لګي هم کړاو ـ دلته مونږ جدیدیت د څو اړخونو یا صورتونوپه ترڅ کښې ګورو او د پېژندنې هڅه ئې کوو ـ

## د جدیدیت وړمبے صورت

جدیدیت (Modernism) د ټولنیز پرمختګ دپاره په لویه کچه لاره هواروي او انسانانو په خصوصي توګه تخلیقکارانو یا هنرمندانو ته طاقت ور بخښي چې هغوي خپل تخلیقي او هنري صلاحیتونه رابرڅېره کړي ، په کار ئې راولي او د خپل چاپېرچل ستونزې د سائنسي علم ، تجربو او ټېکنالوجۍ په رڼا کښې هوارې کړي (۱) ـ دا یوه داسې اصطلاح ده چې د کارولو پېمانه ئې د هر چا سره لږه بدله ضرور ده ـ څېنې پوهان او ادبي دانشوران په ادبي تناظر کښې هم (Modernism) د یوروپي نشاه ثانیه د روښان

1 Assistant Professor, Bacha khan university Charsada
2 HOD Department of Sociology Bacha khan university Charsada

فکرۍ د تحریک یوه برخه ګڼي او سېکولرازم (Secularism)، مارکسزم(Marxism) او هیومنزم( Humanism) نه يې جدا نه حسابوي ـ ولې هندوستان/پاکستان په ادبیاتو کښې دا باقاعده د مارکسزم ضد ګڼل کېږي او په شا يې د سورن کرکیګارد او د ژان پال سارتر "وجودیت" (Existentialism ) په کار بوخت بولي (۲ ـــ ۳) ـ بله دا خبره هم کېږي چې جدیدیت د مدارجو نه را تېر شوے دے ـ د مثال په توګه یو وخت دا د عقلیت پېداوار ګڼلے شو بلکې د سائنسي عقلیت پسندۍ تحریک هم ورته وئیلے شو چې مذهبي تصورات د نوي فکر او عقل سره د جوړولو یا سمولو دپاره په ضد وو (۴) ـ د عقلیت د تحریک سره د یوروپي ټولنې دا خیال وو چې ګڼي د نړۍ (یا ژوند) ټولې ستونزې د عقل سره هوارېدے شي خو هر کله چې نړۍ د عقل په ترخ کښې د انسانیت وژنې وسلې جوړولو عمل پېل کړو او د یو بل د لاندې کولو عمل ته يې مخه شوه ، تردې چې د وړومبي نړیوال جنګ او بیا د دویم نړیوال جنګ تودوخه يې تر ستوني تېره شوه نو د عقلیت نه مایوسي رامخې ته شوه نو دلته د جدیدیت بل اړخ مخې ته رائحي ـ خو د مدارجو دغه عمل د جدیدیت لغوي مفهوم پورې سمېږي چې ترمخه يې هر هغه شے ، اړخ یا فکر چې د زمانې د قایم کړي شوي روایت او تقاضو سره سم وي ـ یا د تاریخي مفهوم تر مخه پرون نه نن او نن نه سبا ، شلمه پېړۍ د نولسمې څخه او یویشتمه بیا د شلمې نه نوې ده ـ

البته د یوې کوټلې بیانیې (Narrative) په توګه يې چې بیانوو نو بیا به دوه اړخونه په ذهن کښې نیول وي:

- د ذهن یوه مخصوصه رویه
- د فکر یا قدرونو یو عصري نظام (۵)

په معنوي توګه جدیدیت د نوي خیال ، سوچ ، کردار او عمل عکاسي کوي او په خصوصي توګه د نوو راټوکېدونکیو کلتوري او ټولنیزو خوځښتونو تجزیه ده کوم چې په مغربي ټولنه کښې په نولسمه او شلمه پېړۍ کښې د ټولنیز بدلون په پایله کښې مخې ته راغله ، مقصد دا چې جدیدیت د هغو ټولو خوځښتونو بشپړه مطالعه او څېړنه وړاندې کوي(۶) ـ انتهوني ګیډنز (Anthony Giddens) په خیال جدیدیت په علومو او ټولنه کښې د لاندینو درې څېزونو یا توکیو مطالعه یا د شتون نمائندګي کوي:

• عقليت ـــــــــ (Dis-Embedding)

• انعکاس/تنقيدي شعور ـــــ (Reflexivity)

• زمان و مکان فرق ختمېدل ـــــ (Distanciation) (۷)

برنو عناصرو/توکيو يا د جديديت د فکري نظام کومه کوټلې بيانيه چې مونږ ذکر کړه ، باندې د پوهېدو دپاره د غربي نړۍ دوه سوه کاله وړاندې کلتوري/ټولنيز توکيو باندې پوهېدل ضروري دي ، له کومې چې دغې بيانيې وجود موندلے دے او بيا د دغه بيانيې څخه د جديديت يوه اصطلاح يا تحريک يا صورتحال مخې ته راغلے دے:

• فطري قانون علت: (Natural Causation) چې تر مخه يې يوه حادثه/واقعه /پيښه د بلې علت جوړېږي ـ کائنات د علت په قانون کښې تړل شوے ګڼل ـ

• افاقي ارتقاء: (Universal Evaluation) د څيزونو په بدليدو رابدليدو يقين لرل ـ د ډارون او برګسان نظريه ارتقاء ته ورته سوچ يا فکر لرل ـ

• ټولنيز عليت: (Social causation) ټولنه او ټولنيز قدرونه هم د فطرت د قانون پابنده ګڼل ـ

• خوور وور يوالے: (Dimensional Integration) حقيقت يا مظهر ساده نه وي ، د دې بلها پټ اړخونه وي ، هغه ټول پټ اړخونه په يو ښکاره يا په نظر راتلونکي حقيقت کښې محسوسول ـ

• انساني محبت: (Humanistic Love) د هر قام ، نسل ، رنګ ، مذهب نه بالا د انسانيت سره مينه لرل ـ

• د ژوند اثبات: (Life Affirmation) ژوند تش د اخرت پټے نه ګڼل ـ په ژوند يقين ساتل ـ په ژوند داسې يقين ساتل چې په پايله کښې د مرګ نه پس ته ژوند باندې هم د بشر يقين پوخ شي ـ

• د قدرونو تلاش: (Creativity of Values) د موروثي قدرونو د خونديتوب/ تحفظ سره سره د نوو قدرونو تلاش او رامخې ته کولو هڅه ـ (۸)

ظاهره خبره ده چې دا واړه اړخونه/شيان/توکي د پينځلسمې عيسوي پېړۍ نه را شروع کېږي او نولسمې عيسوي پېړۍ پورې په پوره جوبن کښې د غرب په خاوره موجود وليدل شول ـ کوم چې

پورته ذکر شوو درې مهمو اړخونو (سېکولرازم (Secularism)، مارکسزم(Marxism) او هیومنزم (Humanism) د عقل او تنقیدي شعور او زده کړو یو نه ستړي کېدونکي زغل په ترڅ کښې د زمان او مکان فرق له منځه یووړل شو ـ ابلاغیات بغېر د وخت د خرڅ (لګېدو) نه په سیکنډونو کښې د نړۍ کونج کونج ته وراسېدل او دارنګې د علم ترسیل اسان شو ـ دغه درې توکي د جدیدیت ماخذ وګرځېدل او ټولنه کښې د جدیدیت انځور مخې ته راغے ـ په دغه وړومبي صورت کښې جدیدیت د کومې ځانګړې تهیورۍ یا فلسفې نمائندګي نه کوي ، بلکې د ډېرو تهیوریانو یا فلسفو عمل دخل د شتون په ترڅ کښې د یو ځانګړي عصري قدرونو نه راټوکېدلي نظام یا ذهن نمائیندګي کوي ـ

**د جدیدیت دویم صورت**

د جدیدیت یو بل صورت یا اړخ هغه دے کوم چې د یوې ځانګړې تهیورۍ یا فلسفې په ترڅ کښې مخې ته راغلے دے ، چې د "وجودیت " (Existentialism) په نامه یادوله شي ـ وجودیت د نوموړي ډینش فلسفي سورن کرکیګارد (Soren Kierkegaard) له تعلیماتو او افکارونه ماخوذ ده ـ خو د بده مرغه د یورپ نور قامونه ډېر وروستو په ډینش ژبه وپوهېدل ځکه د کرکیګارد نوم لږ وروستو رامخې ته شو ـ دغه فکر او تهیوري نوموړي جرمني فلاسفر مارټن هائیډګر (Martin Heidegger) په مخه بوتله ، خو د نور پرمختګ بېره ئې پېژندل شوي فرانسوي فلاسفر ژان پال سارتر (Jean Paul Sartre) په خپلو اوږو واخسته او باقاعده ئې د وجودي مکتب فکر بنیاد کښېښود ـ (۹)

وجودي فکر یا فلسفه چې د کومو تصوراتو یا توکیو نه رغونه مومي ، هغې کښې د یورپ د هغه وخت او یا بیا د اوسني وخت ځانګړې بې قراري او اضطراب ، تشویش ، د سامراجي طاقتونو تر منځه د اېټمي وسلو بې درېغه زیاتوالے او استعمال ، په ټولنه او په ټولنیزورواياتو او قدرونو د انقلاب په نوم د بریدونو لړۍ ، مذهب کښې فرقه واریت ته توجه کول ، د سائنسي ایجاداتو تر مخه د عقیدو او روحاني قدرونو زوال ته مخه کېدل ، د وړمبۍ او دریمې نړۍ ترمنځه د غلام او آقا په رنګ اړیکي ، ورځ تر ورځ زیاتېدونکې نا هیلي (مایوسي) او د انسانانو تر منځه د عدم ژغورنې ستونزه تر ټولو اهم دي (۱۰) دا په بنیادي توګه د ذات د بې معنې کېدو یو احساس دے چې د بشر د داخل نه په ډېر شدت سره راپورته کېږي ، په دومره شدت سره چې ځنې وخت کښې د ذات نه پکښې د کرکې

(نفرت) توکے (عنصر) هم شامل وي او د جبر احساس هم پکښې شامل وي ـ بشر دا سوچ کوي ګني موجوده نظام ، علمونه او نظريې د جبر په بنسټ ولاړې دي او زما د ځان/وجود/ذات پکښې هيڅ ژغورنه/تحفظ نشته ، نو بس هغه بيا د ګړکې يو احساس سره مخ شي ، د ټولنې نه ، نظريو نه ، د فلسفو نه ، د نظام نه او تر دې چې د خپل ځان نه هم او دغه کړکه چې څنګه زياتيږي او خوريږي نو د دهشت او وحشت احساس رامخته کيږي ، بشر د هر څۀ نه ويره او ډار محسوسوي او د دغه احساساتو (عدم تحفظ ــ کړکه ـ ويره ) په ترڅ کښې د بشر/بشري فطرت يا د بشري ټولنې پيژندنې عمل ته د وجودي فلسفې نوم ورکړے شو ـ په بنيادي توګه دا مايوس کن صورتحال د وروميې صورتحال د هغه کال نتيجه ده چې د انسانانو په بنيادي ستونزو کښې د هواروېدو جوګه ونه ګرځېدو ـ

په دغه صورتحال کښې د انسان سره کومه داسې ځانګړې عقيده پاتې نه شوه چې د دوي پوره وجود (ذات) ته کومه معنا او مقصد ور وربخښي ، د دغه دور انسان د کوم پيغام او پيام سره څۀ خاص دلچسپي پاتې نه شوه ، د فلسفې ، سياست ، مذهب او اخلاقو د دائرې څخه د وتلو په لټون سر شو ، د کائنات پيژندنې په ځاے ئې د خپل ذات د عرفان او پيژندنې هڅه وکړه او خپلې تجربې يې مقدسې وګڼلې نو يو داسې اظهار ته اړتيامند شو چې د خپل ذات ازانګې پکښې واوريدې شي (۱۱) ـ دلته نه فلسفې د وجوديت رنګ واخستو او تخليق يا هنر (شاعرئ يا ادب ) د جديديت نوم خپل کړو ـ کوم چې د دويم صورت نمائيندګي کوي ـ

## د جديديت ادبي صورت

ترڅو چې ادب کښې د جديديت خبره ده نو دا د سماج د پيژندنې ځان ته يوه خپله پيمانه لري او له دې کبله د سماجي ژوند په هر اړخ ئې خپلې نخښې نښانې پرېباسلې دي او بيا په ادب کښې دا باقاعده د يو ادبي تحريک په صورت کښې په مونږ ځان پيژني ـ نو بايد دا خبره مو په ذهن کښې وي چې دا د پورتنيو دواړو ذکر شوو صورتونو عکاسي کوي ـ البته د يورپ او براعظمګي ( هندوستان) په ادبياتو کښې به هغه توپير بيا هم په نظر راځي ، کوم ته چې وړاندې اشاره شوې ده ـ مقصد د يورپ په ادبياتو کښې به د وروميې صورتحال عکاسي زياته د جديديت په نوم مخې ته راځي او د هندوستان په ادبياتو کښې به د دويم صورتحال (د وجودي فلسفې په رڼا کښې) عکاسي زياته مخې ته راځي ـ

د جدیدیت څرک د غربي نړۍ په ټولو ادبیاتو کښې د صنعتي پرمختګ او ښاري ژوند د نړیوال بدلون په رڼا کښې د یو کوټلي جواب په څېر رانوتے دے ـ د وړومبۍ نړیوالې جګړې نه وړاندې هنري جېمس (Henry James) او جوزف کانراډ (Joseph Conrad) او داسې نورو لیکونکیو د جدیدیت بنیاد ایښے وو ، خو په صحیح توګه جدیدیت د یو غورځنګ په حېث د وړومبۍ نړیوالې جګړې نه پس پیل کېږي ، د جګړې نه پس ټول ادبي موضوعات د فکري مایوسۍ او مزاحمت عکاسي کوي ولې چې انسان زیاتره په فکري طور د مغربي ټولنې او د هغوي د کلتوري بنسټونو نه ماړه خوا او زړتورے شوے وو ـ د ټي ایس ایلیټ (T. S. Eliot) اوږد نظم "The Waste Land" د اغېز نه ډکه (موثره) جدیدي فنپاره یادېږي ـ د آئرش لیکوال جېمس جویي (James Joey) ناول (Ulysses) چې په کال ۱۹۲۲ کښې لیکل شوے دے ، د جدیدیت ستره نمونه ګڼلے شي ـ دغه ناول کښې د دربو کسانو قیصه ده چې د ښاري ژوند سره اړه لري ـ دا د دربو کسانو قیصه په اکي یوه ورځ بیانوي چې "د شعور چینه" د تکنیک لاندې بیانېږي چې د جدیدیت خاصه ده ـ دغه قیصه کښې د روانو جملو په ځاے ګډوډ ، مات مات او پیوند کارۍ د تېکنیک نه کار اخستے شوے دے ـ دارنګې امریکنو جدیدو لیکونکیو ورجینا وولف (Virginia Woolf) مارسل پروسټ (Marcel Proust) ویلیم فولکنر ( William Faulkner) او نورو ډېرو هم په ادبي لیکنو کښې د روانۍ ، تشریحاتي او موضوعاتي تسلسل په کلکه غندنه کړې ده (۱۲)

ادب کښې مونږ په اطلاقي ډول د دې پېژندګلو د موضوعاتو نه پرته د احساساتو/کېفیاتو په ترڅ کښې کولے شو او احساسات/کېفیات مونږ همېشه دپاره د ټکیو او په خصوصي توګه د اصطلاحاتو تر شا پېژنو۔ په یوه فنپاره چې مونږ کله د جدیدیت مهر ثبت کوو ، نو دا لاندیني احساسات/ کېفیات به نظر کښې ساتو:

تسکې وسکې/تس نس/تیت پرک کېدل ، څوک نه لرل/یوازیتوب/تنهایي/د خپلولۍ (رشتې) له منځه تلل ، ناهیلي/مایوسي/ناامېدي ، تیاره/لار ورکه/لادرکه کېدل ، ویره/ډار/خوف/دهشت سره مخ کېدل ، ختمېدل/له منځه تلل/نېست کېدل/نابودېدل ، معنا ورکېدل/فضول کېدل ، د نااشنایۍ سره مخ کېدل/اجنبیت ، د خاورې سره خپلوي ختمېدل/په خپله خاوره در په در کېدل ، د خپل شخصیت ادراک نه کېدل/ځانګړتیا ختمېدل ، تنګښت/ بوریت/ بېزاره کېدل ، ځان د یو څیز/شے په

شان ګڼل ، ايسارېدل/محدود کېدل/ زوال سره مخ کېدل ، شک کول/ګډوډ کېدل/منل او رد کول ، غم/غصه/احتجاج زيات کول ، انکار پسې انکار/بغاوت پسې بغاوت کول ، اواز نه رسېدل/ وېنا نه اثرانداز کېدل ، په ځان کښې ډوبېدل/له ځانه بهر نه وتل/انفراديت غوښتل ، هر څۀ کښې يو شان والے ليدل/هر څۀ تکرار محسوسول (۱۳) او داسې نور کوم چې د ذکر شوي دويم صورتحال (وجودي فلسفې) توکي (اجزاء) ګڼل شي ـ

خو د دې بره ذکر شويو کېفياتو/احساساتو نفسياتي او پس منظري مطالعه هم د جديديت ذمه واري ده ـ دلته جديديت په خپل تنقيدي شعور کښې دا ګوري چې د تخليق کوونکي د دغه مايوسۍ ، بې درکۍ او ناهيلۍ په شا يو ستر ارمان او خواهش پروت دے چې د وګړي پېژندنه ، د وګړي اهميت ، د وګړي د ستونزو مخ نيونه ، د وګړي ټولنيز کردار مخ ته راوړل يا داسې نور نور ـ ياده دې وي چې وګړے تش تخليق کار نه دے ، دلته وګړے د پوره انسانيت نمائنده دے او د نومې انسان مقدمه ئې په سر اخستې وي ـ دغه ځاے کښې جديديت د هغه انسان دوستۍ سره غاړه غړۍ کېږي چې د وجودي فلسفې يو بنيادي توکے دے ـ

مونږ چې بره د کومو کېفياتو او احساساتو ذکر وکړو ، نو په دې نتيجه رسېدے شو چې جديديت د معروضيت په ځاے موضوعيت ته زيات پامته داره دے او مونږ بيا دا هم پېژنو چې د معروض په مقابل کښې موضوع بيانول يا تشريح کول ګران کار د ے ـ مونږ په عام ژوند کښې بل خو تشريح کولے شو او پېژندلے شو او راپې پرې هم ورکولے شو خو خپل ځان/ذات په اړه بيا مونږ چپ يو ـ ځکه مونږ چې کله د يوې جديدي فنپارې لوسته کوو ، نو هغې په پوهېدو کښې مونږ لږ د مشکل سره مخ کېږو ـ وجه ئې دا وي چې د فنپارې تخليق کونکے د خپل ډېر کوښښ باوجود هم په پوره پوره ابلاغ کښې يا خو کامياب شوے نه وي او يا هر څۀ په ډاګه وئيل نه غواړي ـ په بادي النظر کښې مونږ ته متن مات مات ، پرې پرې ، بې ربطه ، پيچيده او خامخا پيوندي ښکاري ؛ خو په ژور نظر سره د کتو نه پس نه خو هغه متن مات وي او نه پرې وي ، نه بې ربطه وي او نه بې ځايه پيوند شوے وي ـ

## ماخذونه


۱: Berman, Marshall, All That Is Solid Melts, Into Air: The Experience of Modernity, second ed, London, 1988

۲: نارنگ، گوپی چند، مابعد جدیدیت عالمی تناظر مین، مشموله: تنقید کی جمالیات (جلد ۵)، مرتب: پروفیسر عتیق اللہ، لاھور، فکشن ھاؤس، ۲۰۱۸، ص: ۲۸۹

۳: الطاف انجم. ڈاکٹر، اردو میں مابعد جدیدیت، لاھور، عکس پبلیکشنز، ۲۰۱۸، ص: ۴۱

۴: هم دغه کتاب ، ص: ۳۸

۵: خواجه، یوسف جمال، جدیدیت کیا ھے، مشموله: تنقید کی جمالیات (جلد ۵)، ص: ۱۵

۶: http://www.hanshofmann.org/biography

۷: George Ritzer, 2008, Sociological Theory, 7th Edition, McGra-Hill Higher Education, p.266

۸: خواجه، یوسف، جدیدیت کیا ھے، ص ص: ۱۷ــــــــــ۲۲

۹: قیصر الاسلام، قاضی، تاریخ فلسفه مغرب، کراچی، نیشنل بک فاونڈیشن، ۲۰۰۵، ص ص: ۱۸۳، ۱۸۲

۱۰: هم دغه کتاب ، ص ص: ۱۸۴،۱۸۵

۱۱: احمد سرور، آل، پروفیسر، نظر اور نظریے، کراچی، اردو اکیدمی سندھ، ۱۹۸۷، ص ص: ۱۷۲، ۱۷۱

۱۲: https://www.britanica.com/art/Modernism-art (12 Nov 2018)

۱۳: لطف الرحمن، جدیدیت کی جمالیات، صائمه پبلیکیشنز، بھار (بھارت)، ۱۹۹۳، ص: ۱۳۹